

# 2020

## د ثبت احوال نفوس

# د الیکترونیکی تذکرو سوالونه او جوابونه




## افغانیت زموږ ملی هویت دی

## شا ه محمود واقف د کنړ د سید جمال الدین افغان پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځی فارغ التحصیل


ژباړونکی او ترتیب کوونکی : شاه محمود واقف
د اړیکو شمیری: ۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶
برښنالیک : waqif.sw @gmail.com

فیسبوک : shahmahmood waqif

# بسم الله الرحمن الرحیم

## د پیل لنډی خبری

**څرنګه چی د نفوس ثبت احوال اړوند د الکترونیکی تذکرو د ازموینو لپاره کوم ځانګړی د سوالونو او جوابونو کتاب موجود نه ؤ**

**نو لازمه می وګڼله چی یو څه معلومات د ثبت احوال نفوس قانون اړوند په پښتو ژبه می ژباړلی او د سوال اوجواب په ډول می ترتیب کړی دی.**

**تر څو د ګران هیواد افغانستان زیات فارغ التحصیل ځوانان چی غواړی د الکترونیکی تذکرو په بخش کی دنده ترسره کړی او په ازمو ینه کی د بریا چانس ترلاسه کړی ددی کتاب ټول مطالب مو د بریا ضمانت کوی انشاءالله.**

**په نوټ کی د غلطی او تیروتنی په شتون کی او یا هم د پوښتنی په صورت کی له ماسره اړیکه نیولی شئ**


**درنښت**

**شاه محمود واقف**

**د کنړ ولایت د سرکانو ولسوالئ د پشد چینه ګئ د کلی اوسیدونکی**

**۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶**



ژباړونکی او ترتیب کوونکی : شاه محمود واقف
د اړیکو شمیری: ۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶
برښنالیک : waqif.sw @gmail.com

فیسبوک : shahmahmood waqif

# بسم الله الرحمن الرحیم

۱ سوال : د ثبت احوال نفوس قانوت په کوم کال او د چا لخوا تصویب شو؟

جواب : د ثبت احوال نفوس قانون د ملی شورا د مجلسینو د ګډ هیئت لخوا د (۱۰۶) ګڼی په اساس په ۱۱/۱۰/۱۳۹۳ نیټه تصویب شو.

۲ سوال : د ثبت احوال نفوس قانون څو فصلونه او څو مادی لری ؟

جواب د ثبت احوال نفوس قانون ۳۹ مادی او۷ فصلونه لری.

۳ سوال: پیژدنه یا هویت څه ته وايي؟

جواب :پیژندنه یا هویت د یو شخص بشپړ شهرت دی چی لاندی برخی لری

نوم – تخلص – د پلارنوم – د نیکه نوم – د ورځی میاشتی او کال تفکیک اصلی او فعلی استوګنځی شامل دی.

۴ سوال : د تابعیت تذکره تعریف کړی؟

ژباړونکی او ترتیب کوونکی : شاه محمود واقف
د اړیکو شمیری: ۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶
برښنالیک : waqif.sw @gmail.com
فیسبوک : shahmahmood waqif

جواب : د تابعیت تذکره هغه رسمی سند دی چی د قانون د حکمونو مطابق د پولی کاربونیټ د کارت په دول د هیواد د تبعی د ملی هویت د تثبیتولو په منظور چاپ او ویشل کیږی.

۵ سوال : اصلی استوګنځی څه ته وایی ؟

جواب : اصلی استوګنځی هغه ځای دی چس شخص یا نسبی اصول یی هغه ځای کی په دایمی ډول اقامت ولری او هویت يي د همغه ځای د نفوسو د ثبت احوال په دفتر کی ثبت شوی وی .

۶ ک سوال : نقل مکان څه ته وايي ؟

جواب : نقل مکان د یو ځای څخه بل ځای ته د شخص د اصلی استوګنځی بدلون دی

۷ سوال : کوچی چاته وایی ؟

جواب : کوچی د هیواد هغه تبعه دی چی د اوسیدو ثابت ځای ونلری اصلی کسب یی مالداری وی او د اقلیمی شرایطو په نظر کی نیولو سره له یو ځای څخه بل ځای ته نقل مکان کوی .

۸ سوال : نوی راغلی شخص څوک دی ؟

جواب نوی راغلی شخص هغه څوک دی چی مخکی یی نوم د ثبت احوال نفوس په دفتر کی نه وی ثبت شوی او د تابعیت د تذکری د اخیستلو په غرض یی اړوند ثبت احوال نفوس دفتر ته مراجعه کړی وی.

۹ سوال : ولی چاته ویل کیږی ؟

جواب ولی د طفل پلار نیکه او له هغه څخه پورته وی.

۱۰ سوال : مجهول الهویه چاته ویل کیږی ؟

جواب مجهول الهویه هغه ژوندی یا مړ شوی شخص دی چی د موندلو په وخت کی هویت تثبیت نشی .

۱۱ سوال : قانونی خپلوان چاته ویل کیږی ؟

جواب قانونی خپلوان هغه شخص دی چی له تذکری اخیستونکی سره نسبی یا سببی خپلوی ولری .

۱۲ سوال : بایومتریک سیستم تعریف کړی ؟

جواب : بایومتریک هغه سیستم دی چی د هغی په ذریعه د سترګو عنبیه سکین د ګوتو لسګونی نښی د شخص عکس او ډیجیتلی لاسلیک اخیستل کیږی .

۱۳ سوال : د کورنیو چارو وزارت د ثبت احوال نفوس په قانون کی کوم مسؤلیتونه لری ؟

جواب : د کورنیو چارو وزارت دغه لاندی مسؤلیتونه لری

د قانون تطبیق کول – د بهرنیانو د چارو پیژندنه – په مرکزی او ولایتونو ولسوالیو او بندرونو او هوايي دګرونو کی فعالیت کول .

۱۴ سوال : د تابیعت تذکره د کومو محتویاتو لرونکی ده ؟

جواب : د افغانستان د تابیعت تذکره د دغو محتویاتو ارونکی ده

د افغانستان ملی نښان د تذکری په منځنۍ برخه کی – لاندی تری د تابعیت د تذکری ګڼه – او په ښی طرف کی په ترتیب سره د افغانستان اسلامی جمهوریت د کورنیو چارو وزارت او کیڼ لوری ته یی جمهوری اسلامی افغانستان وزارت اموداخله عبارتونه لیکل شوی دی

ژباړونکی او ترتیب کوونکی : شاه محمود واقف
د اړیکو شمیری: ۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶
برښنالیک : waqif.sw @gmail.com
فیسبوک : shahmahmood waqif

او د تابعیت تذکري په ښی لوری کی په ملی ژبو لاندی عبارتونه لیکل شوی دی

نوم/نام -د پلارنوم /نام پدر – د نیکه نوم/نام پدرکلان – زږیدنی ځای/محل تولد – اوسنی استوګنځی /سکونت فعلی – اصلی استوګنځی / سکونت اصلی – دین – د تبعه عکس – لاسلیک / امضاء

۱۵ سوال : د نفوسو د احوالود ثبتولو او د بهرنیانو د چارو د پیژندني دندی او واکونه کوم دی

جواب : د هیواد اتباعو ته د تذکرو ویشل – د معلوماتو راتولول ترتیبول انسجام کول تحلیل او تجزیه کول او پایله اخیستل – ګرځنده هیّت تاګل د دولتی ادارو په هکله معلومات راټولو – د بهرنیانو تثبیتول او تنظیمول – د نفوس د احوالو دوامداره څارنه – د تابعیت اخیستونکی یا ترک کوونکی د سندونو وړاندی کول کمیسون ته – د کارکوونکو د ظرفیتونو لوړول او د ذده کړی برنامی طرحه او تنظیمول .

۱۶ سوال : د تابعیت د تذکری په عمومی ویش کی کومی اداری مکلفی دی چی وسایل او تجهیزات د تفوس د ثبت احوال اداری ته ورکړی ؟

جواب : وزارتونه – ادولتی اداری – خپلواک کمیسونونه – شرکتونه – او دولتی تصدیٔ مکلف دی .

۱۷ سوال : د تابعیت تذکره په کوم شرایطو د هیواد اتباعو ته ورکول کیږی ؟

جواب : د شپږ کلنی عمر د بشپړیدو پوری په غیر د عکس او بایومتریک څخه

اوه کلنی څخه تر اوولس کلنی پوری د عکس سره او په غیر د بایومتریک معلوماتو او پولی کاربونیټ کارت څخه

او د اتلس کلنئ عمر د پیل ښخه د عکس او بایومتریک معلوماتو او پولی کاربونیټ کارت سره ورکول کیږی .

۱۸ سوال :بهرنی تبعه او هغه شخص چی د افغانستان تابعیت ونلری له کومو مراجعو باید تابعیت تر لاسه کړي ؟

جواب : د افغانستان د تابعیت تذکره باید د نفوسو د ثبت احوالو د مراجعو ښخه تر لاسه کړی .

۱۹ سوال : د طفل ولی یا قانونی ځپلوان په کوم شرط کولی شی چی د طفل لپاره د تابعیت تذکره واخلی ؟

جواب : د طفل خپلوان مکلف دی چی د زږیدو ښخه تر دری میاشتو پوری د روغتیایی کلینیک او یا د کور د زږیدو د سند لمخی د طفل لپاره د تابعیت تذکره واخلی .

۲۰ سوال :د تابعیت تذکره په کومو حالاتو کی نوی کیږی ؟

جواب : د تابعیت تذکره په لاندی حالتونو کی نوی کیږی

د شپږ کلنئ سن بشپړیدل – د اوولس کلنئ سن بشپړیدل – د ظاهری ښیری بدلیدل – چی عکس یی د مخکی او موجوده تذکری سره ډیر تفاوت ولری .

۲۱ سوال : د تابعیت مثنی تذکره په کومو حالتونو کی ورکول کیږي ؟

د ټولیزو رسنیو د اعلان بغیر په لاس کی د موجوده تذکری د ماتیدو او د نه لوستل کیدو په صورت کی – د سوزیدو په صورت کی د هغه ځای د دوه تنو په تصدیق سره – د ورکیدو په صورت کی د ټولیزو رسنیو د اعلان ښخه وروسته او په هغه ځای کی چی رسنئ نه وی د دوو تنو په تصدیق سره ورکول کیږی .

۲۲ سوال : د تابعیت د تذکری د نه ویشلو حالات کوم دی ؟

جواب : د شخص به غیاب کی د تابعیت تذکره نه ویشل کیږی او په هغه صورت کی چی ناروغ او یا داسی معلول وی چی د نفوسو د احوالو مرجع ته د تلو توان ونلری د هویت مامور مکلف دی چی د هغه پاته د هغه د اوسیدو په ځای کی ترتیب او تذکره ورکړل شی .

۲۳ سوال : د ګرځنده هیت په واسطه د تابعیت تذکره کومو اشخاصو ته ورکول کیږی ؟

جواب : د افغانستان هغه شمیر اتباعو ته ورکول کیږی چی په محبسونو توقیف ځایونو روزنتونو نظامی او امنیتی قطعاتو کی دنده ترسره کووونکو ته ورکول کیږی .

۲۴ سوال : د کوچی لپاره د تابعیت تذکره په کوم ډول ورکول کیږی ؟

جواب : د کوچی لپاره د تابعیت تذکره د دوبی او ژمی د اوسیدو د ځاي پر بنسټ د قانونی خپلوان په تصدیق او یا د سرخیل کوچی د تصدیق څخه وروسته چی اړونده اداری ته رسمی معرفی شوی وی .

۲۵ سوال : د زږیدنی فوت او ازدواج د لمنځه وړلو راپور په کوم ځای کی درج کیږی ؟

جواب : د معلوماتو د ډیتابس په مرکز کی درج کیږی .

۲۶ سوال : د نوی زږیدلی طفل ریپورټ باید په څومره موده کی اړوند مرجع ته ورکړی ؟

جواب : د دریو میاشتو به موده کی تر ټولو نږدی د نفوسو احوالو مرجع ته خبر ورکول کیږی .

۲۷ سوال : له هیواده بهر میشت د افغانستان وګړی د خپل نوی زږیدلی طفل رپورټ کومی مرجع کی ثبت کولی شی ؟

جواب : د دریو میاشتو په موده کی کولی شی چی له هیواده بهر سیاسی قونسلی نمایندګیو ته په لیکلی ډول رپورټ ورکړی .

۲۸ سوال د مجهول الهویه نوی زیږیدلی طفل ( ماشوم) اطلاع څه ډول ورکول کیږی؟

جواب اول د سیمی د پولیسو اداری ته خبر ورکول او پولیس به یی اړونده نفوسو احوال اداری ته خبر ورکوی اوبیا د واکمنی محکمی لخوا د طب د DNA د معایناتو څخه وروسته نوم ایښودل کیږی

۲۹ سوال مجهول الهویه شخص ته د تابعیت تذکره په څه ډول ورکول کیږی؟

جواب د تابعیت د تذکری اخیستلو لپاره د تابیعت د تذکری لرونکو د دوو تنو په تصدیق او تضمین او د هغه د افعانیتوب د فورم د ډکولو او د ملی امنیت د تاید څخه وروسته د تبعیت تذکره ورکول کیږی.

۳۰ سوال هغه شخص چی مړ شی قانونی خپلوان يي په څه ډول او څومره وخت کی د ثبت نفوس احوال اداری ته خبر ورکړی؟

جواب د هغه نوموړی مړی د مړینی راپور باید د نیتی ځای په توضیح د ۳۰ ورځو په ترڅ کی د نفوسو د ثبت احوال اداری ته خبر ورکړی .

۳۱ سوال هغه شخص چی په عامو ځایونواو سیمو کی مړ شی د هغه راپور په څه ډول ورکول کیږی؟

جواب اړونده امنیتی مرجع مکلفه ده چی د هغه د مړینی راپور د ۷ ورځو په ترڅ کی د ثبت احوال نفوس اداری ته ورکړی.

ژباړونکی او ترتیب کوونکی : شاه محمود واقف
د اړیکو شمیری: ۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶
برښنالیک : waqif.sw @gmail.com
فیسبوک : shahmahmood waqif

۳۲ سوال هغه شخص چی د محاربوی دندو اجراء په وخت کی په شهادت رسیږی راپور یی په څه ډول اړونده مرجع ته ورکول کیږی؟

جواب د هغه شخص بشپړ شهرت له څرګندولو سره د وزارتونو اړونده ادارو له د ۳۰ ورځو په موده کی اړوند تفوس احوالو اداری ته په لیکلی ډول راپور ورکول کیږی.

۳۳ سوال د ازواج او یا انحلال راپور په څه ډول ورکول کیږی؟

جواب د سندونو وثیقو اداره مکلفه ده چی دغه معلوماتو په ډیټابس کی ثبت کړی زوجه او زوج مکلف دی چی د اذدواج او انحلال راپور د نفوس احوالو اداری ته ورکړی او د نفوسو احوال اداری مکلفی دی چی د اذواج او انحلال راپور او معلومات تر لاسه کړی او زوج او زوجه چی مخکی د نفوسوپه اداره کی نه وی ثبت شوی باید ثبت شی.

۳۴ سوال د افغانستان هغه اتباع چی له هیواده بهر اذواج کوی او یا یی منحلوی باید څه دول کړنلاره تر سره کړی؟

جواب هغه باید د ۳۰ ورځو په موده کی خپل راپور د افغانستان سیاسی او قونسلی نمایندګیو ته راپور وړاندی کړی.

۳۵ سوال د تابعیت د تذکری د اخیستلو په هکله د کومو مسؤلینو همکاری باید جلب شی؟

جواب د تابعیت د تذکری د اخیستلو لپاره باید دا لاندی مسؤلینو همکاری جلب شی والیان- ولسوالان- ښاروالان- د قریو ملکان- وکیلان- د مسجدونو امامان – او د روغتیایي مرکزونو همکاری جلب کول.

۳۶ سوال هغه شخص چی خپل اصلی استوګنځی بدلوی باید کوم ډول عمل تر سره کړی؟

ژباړونکی او ترتیب کوونکی : شاه محمود واقف
د اړیکو شمیری: ۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶
برښنالیک : waqif.sw @gmail.com
فیسبوک : shahmahmood waqif

جواب هغه شخص باید د ۳ میاشتو په موده کی د نفوس احوال اداری ته خبر ورکړی د نقل مکانئ موضوع د معلوماتو په ډیتابس کی ثبت شی او د نقل مکانئ معلومات چی د معلوماتو په فورمه کی لیکل شوی وی باید په نوی ځای کی ولیکل شی او له مخکنی استوګنځی څخه حذف شی.

۳۷ سوال د ماشوم لپاره د سن موده څه وخت او څه ډول ټاکل کیږی؟

جواب د شیږ کلنئ د عمر په بشپړیدو سره او د ولی او د دوه تنو قانونی خپلوانو په څرګندونو په اساس ټاکل کیږی.

۳۸ سوال د تابعیت په تذکره کی د نوم بدلول او یا صحیح کول په کومو شرایطو صورت ن؟

جواب د اتلس کلنئ عمر په بشپړیدو د ولی او یا قانونی خپلوان د غوښتنلیک په اساس نوم یو ځل بدلولی شی او د املایي تیروتنو (غلتیو) د صحیح کولو لپاره هر وخت کولی شی چی اصلاح یی کړی.

۳۹ سوال بنوت چاته ویل کیږی؟

جواب بنوت هغه چاته ویل کیږی چی یو څوک د چا د زویتوب ادعا وکړی او واکمنه محکمه یی به زویتوب حکم وکړی بنوت ورته وایی.

۴۰ سوال د تابعیت د تذکری لرونکی ته د کسب او کار د بدلیدو راپور څرنګه ثبت احوال نفوس اداری ته ورکوی؟

جواب د رسمی غوښتنلیک په اساس به د ثبت نفوس احوال اداری ته خبر ورکوی تر څو د معلوماتو په ډیټابس کی ثبت کړی.

۴۱ سوال په کومو عدلی تحقیقاتو کی یو تذکره اخیستونکی د عدلی تحقیق لاندی راځی ؟

جواب د ثبت شوی تذکری د مندرجاتو د بدلون په صورت کی د زږیدنی مړینی او اذدواج او انحلال د غلت راپور په صوت کی د واقعیت خلاف د تذکرو د ورکیدو یا سوځیدو تصدیق کول د تابعیت د تذکری د لرلوپرته شخص استخدامول قصدآ د تابعیت د تذکری ماتول یا ورکول د قانو ن د حکم پرته د هیواد د اتباعو د معوماتو افشاء کول د تابعیت د تذکری د الکترونیکی سیستمونو هک کول او په کورنۍ او انفرادی فورمه کی غلت معلومات ثبت کول دی.

۴۲ سوال هغه شخص چی ورکه شوی تذکره پیداکړی باید کوم مکلفیت تر سره کړی؟

جواب هغه شخص باید د نفوسو د ثبت احوال دفتر او یا د پولیسو نژدی اداری ته خبر ورکړی او ورته یی وسپاری.

۴۳ سوال د تابعیت د اصلی تذکری او د هغی د مثنی بیه څو افغانۍ ده؟

جواب د اصلی تذکری بیه ۱۰۰ افغانۍ ده او د مثنی تذکری بیه ۵۰۰ افغانۍ ده

۴۴ سوال د سابقه تذکروپه اساس نوی الکترونیکی تذکره په څه ډول ورکول کیږی؟

جواب د سابقه تذکرو په اساس نوی الکترونیکی تذکری کی د سابقه تذکری د ثبت ګڼه او د پاڼی ګڼه په ډیټابس کی ثبت کیږی.

۴۵ سوال په هغه سیمو کی چی الکترنیکی تذکری د امنیتی ستونزو له امله د ویش وړ نه وی څه حکم لری؟

جواب بیا هغه پخوانۍ تذکری د اعتبار وړ دی.

۴۶ سوال د الکترونیکی تذکیری د ویشلو پړاو کله او څه وخت په رسمی جریده کی خپور شو؟

جواب د الکترونیکی تذکرو د ویشلو پروسه په ۱۴۲۱هجری قمری کال کی د ۷۹۳ گڼی په اساس په رسمی جریده کی خپور شو.ې

۴۷ سوال احصائیه څه ته وایي؟

جواب احصائیه د معلوماتو او ارقامو د راټولو تنظیمولو تحلیلولو تعبیرولو او ارائیه کولو مطالعی او پوهی ته ویل کیږی.

۴۸ سوال جمعیت څه ته وایي؟

جواب د هغو ټولو واحدونو سیټ چی نمونه ځینی اخیستل شوی وی جمعیت بلل کیږی.

۴۹ سوال نمونه څه ته ویل کیږی؟

جواب د ټول جمعیت څخه یوی برخی ته چی د څیړنو لپاره اخیستل شوی وی نمونه ورته ویل کیږی.

۵۰ سوال د احصائي د مرکزی اداری د جوړیدو موخه څه ده ؟

جواب د احصائي مرکزی اداره په هیواد کی د احصائی ثبت د علمی واحد سیستم د جوړولو او د ټولو احصائیوی فعالیتونو د همغږۍ او سمون د تامینولوپه منظور د دولتی خپلواکی اداری په توگه فعالیت کوی.

۵۱ سوال د احصائی ملی کمیټه څوغړی لری او د احصائی د ملی کمیټی عادی غونډی په کال کی څو ځلی جوړیږی؟

جواب د احصائی ملی کمیټه د لسو غړو څخه جوړه شوی ده او د احصائی د ملی کمیټی عادی غونډی لږترلږه په کال کی دوه ځلی جوړیږی.

۵۲ سوال په هیواد کی د نفوسواو استوګنځی (مسکن) سرشمیره د چا لخوا صورت مومی او څو کاله وروسته ؟

جواب د احصائی د مرکزی اداری لخوا هر لس کاله وروسته د جمهور رئس د فرمان پر بنسټ صورت مومی.

۵۳ سوال د نفوسو د احوال ثبت څه ته وایی؟

جواب د قانون د حکمونو مطابق د نفوسو د احوالو د ثبتولو د معلوماتو په مرکز(ډیټابس) کی د بایومتریک او د هغو د نورو شخصی احوالو په شمول د اتباعو په هکله معلوماتو پرله پسی منسجم ثبتول دی.

۵۴ سوال ددی سوالونو پرته باید نور کوم کتابونه مطالعه کړو تر څو د بریا چانس مو سل په سلو کی یقینی شي؟

جواب باید دغه لاندی کتابونه مطالعه کړی

د ملکی خدمتونو قانون – د کارقانون – د افغانستان اساسی قانون – د اصلاحات اداری کتاب – تدارکات – د ملکی خدمتونو د کارکوونکو د تقاعد د چارو مقرری – د اړونده بست طرزالعمل ضروری ذده کول.

ومن الله توفیق

ستاسی د بریا په هیله

ژباړونکی او ترتیب کوونکی : شاه محمود واقف
د اړیکو شمیری: ۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶
برښنالیک : waqif.sw @gmail.com
فیسبوک : shahmahmood waqif

ژباړونکی او ترتیب کوونکی : شاه محمود واقف
د اړیکو شمیرې: ۰۷۹۸۲۷۰۶۱۲/ ۰۷۷۰۰۷۶۷۵۶
برښنالیک : waqif.sw @gmail.com

فیسبوک : shahmahmood waqif